سمیع الدین افغاني ۲۰۱۵/۱۱/ ۱۴

# په مهاجرت کې

دوطــن غــیــږه کې مـــې کــور وای
تــل خــوشالــي وطــن سمسور وای
چـې راشه درشه په هــر لـــور وای
ماته پردي مالت کې خوب کله راځینه

د وطن خـاوري بــه رانــجه کــړم
ژوندون بـــه ځه کړم دا پـــردیسی
چـــې اشنا ستـــا دیـــدن ونـــه کړم
دا بې له تا ژوندون مې هردم ژړوینه

چـې موتـــاریخ تـــه نـظـر وکـړو
دا خـپل نیکونـــه را پـــه زړه کړو
ځـــه کړو دا د پــردو ژوندون بـــه
جگې شملې مـــودپلارو رایادي شینه

دا مو پـــه خـپله پــه ځان کــړي
چـــې سـره نـــه یو کـــور او کلي
د بــل منـــلي مـــدام مـــونــږه
چې دپردوپه لمسون خپل کور ورانونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

راځـــی چـــي خپـل وطـن ابــادکــړو

د هـــم غـــړی اصـــل بنـــیاد کـــړو

په ورور ګلوی خپل زړونه ښاد کړو

تر څو بـــه ګالـو دپـــردیو پیغورونه

وطـــن د ټولـــو شریک کـــور دی

هـــر قوم زموږ د سترګو تور دی

دا هر افغان تـــه لوی پیغور دی

چي دشمنان مو په قومونو بیلوینه

د اتفاق نـه هـــرڅـه جـــوړ شي

چي مو سوکاله ځوان او زوړ ښي

موږ شي وطن ابادي شي ټول

راځی چي یوکړوافغاني خواره قومونه

*** ****** ***

سمیع الدین افغاني

۲۰۱۵-۱۱ -۱۰

م ۰ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ